لمړی او وروستی خاطره

لیکنه : استاد نوراحمد «قران مل»

نیټه: ۱۴۰۳قوس۱۴

الحمدلله وکفی وسلام علی عباده الذین الصطفی!

قال تبارک الله تعالی!

وَمَنْ يُؤْتَ الْحِكْمَةَ فَقَدْ أُوتِيَ خَيْرًا كَثِيرًا [1]

د کندهار پوهنتون د غونډو په تالار کې د محضر درنو حاضرینو د پوهنتون رهبري هیئت، د پوهنتون مخکي رئیس پوهاند وثیق صاحب ، درنو استادانو او ګرانو محصلانو !

السلام علیکم ورحمة الله وبرکاته!

د افغانستان په معاصر تاریخ چې کله د افغان تاریخ یادونه کیږي د پنځو شخصیتونو د ځېرو جوړولو د خلکو ذهن رادننه او خطور کوي.

د هیواد د معاصر د تاریخي تیورۍ اړوند د معاصر افغانستان تیوریسن حاجي میرویس خان «هوتک» او د مودرني حکومتولۍ په سیستم کې د ملي دولت او حکومت ستراتیژیست لوړ درشل احمد شاه «ابدالي» چې د میرویس خان نیکه د تیوري په تقلید یې د منظمي حکومتولۍ بنسټ ایښئ دی یادیږي.

ددې دوو درنو څېرو تر څنګ د معاصري شرقي نړۍ او نړۍ والو اسلامي نهضتونو را بیداروونکي افغان سید جمال الدین څېره چې د نړۍ والو سیاسي بیداریو سرچینې هم په معاصر وخت او سیاست کې د نوموړي د عمیقو کار[illegible] ده.

د شرقي اسیایي تاریخ په قدامت، سپړني او د هندیکو ژبو په پوهه سره د معاصر، ماضي او قدیمي تاریخ په راسپړنو کې د سیمي او هیواد د تادر تاریخ د پنځونو را راسپړلو اړوند معلومات تر شا پرېښي دروند استاد مرحوم علامه عبدالحی «حبیبي» دی.

تر حبیبي وروسته د ژور تحقیق، فنونو په راپېژندني او معاصرو «وجهه تسمیه ګانو» په څانګړي مهارت را پیژندني سره مرحوم استاد علامه عبدالشکور رشاد صاحب څېره چې د افغان تاریخ پر افق به تر ډېره ځلیږي.

درنو!

[1] سورت البقرة ۲۶۹ ایت

(c) ketabton.com: The Digital Library

د مرحوم لوی استاد علامه حبیبي د مړینې پرمهال چې زه لا کوچنی وم او زموږ د ځینو دوستانو کورونه په کابل کې وه او زه هم کله کله د مرحوم پلار سره کابل کې وم، د تلویزیون پر سکرین د مرحوم «حبیبي» د مړینې رپورټ د هغه د لیدني بې برخې کړئ وم.

خو د هغه کشرتوبه مې تلوسه وه چې درانه شخصیت د لیدني فیض مې په برخه سي، غالباً ۱۳۷۷ ل کال به وو، درونږ استاد رشاد له کابله کندهار ته راغلئ او دلته پخپل کورکې استوګن وو، او د سیمې فرهنګي کړی یې د لیدني لپاره پر را ماتې وې، ما هم هڅه وکړه چې وې وینم، کورتې وغلم صرف د لیدني په منظور یو څو دقیقې ور سره تیرې کړې، بیا وروسته په ۱۳۸۳ ل کال کې له خپل خوربي خلیل الله هوتکي سره کابل ته ولاړم، چې یوه ورځ مو د رشاد صاحب په ژوند زیارت کولو ته ور ایسته، استاد د مهربان او درانه سپینږري په دود تر روغبړ وروسته پوښتنه وکړه:

د چا دکورنۍ یې؟

ما دپلارنوم ور واخیست.

بیایې راته وویل: نور مشران دې را وپیژنه نیکه دې څوک وو؟

د نیکه د نامه په ور ښوولو مسکی سو او په درانه دډ آواز یې راته وویل: ښه، دا مې اندیوال وو او کتابخانې تې ورتلم، ددې سره سم زما سره یو کوچنی ټایپ ریکارډر را سره وو. دده بې اجازې مې د ثبت بټن پر وواهه، ده هم څه نه راته وویل.

زموږ د کورنۍ په هکله چې باید ما د یو چا څه اوریدلي وای له مرحوم استاد رشاده مې واوریدل، چې نوي خبري پکښې وې، وروسته یې د پښتو ژبې پر دوو تورو (ږ او ښ) اوردې او مفصلې خبرې وکړې، بیا یې د «دري او فارسي» اړوند اوږد بحث وکړ او دایې یې له خبرو ښکاریده چې اصلاً دري هم خپله فارسي ده او د ځینو سیاسي ملحوضاتو له درکه د وخت حکومت دا نوم ورته غوره کړئ. د استاد مرحوم دا ثبت خبرې چې تقریباً ۶۰دقیقې یوه فیته کیږي په کورني «غریبک کتابتون آرشیپ» کې ساتله کیږي.

د استا د پوښتنو انداز د مفاهې یا Communication په برخو کې د پرانیستو ۱۳ موډلو پوښتو څخه د «استنطاقي» ډول درلود.

د استاد دوهمه خاطره زما لپاره نه، بلکې د هغه د ټولو خواخوږو لپاره دردوونکې وه، سهار مهال مو زموږ د یوه دوست مولوي متوکل احمد «متوکل» کره چای چیښلې، د قوس ۱۱ نیټه وه، د متوکل صاحب میربیزي ماما انجنیر عبدالغفور «خدام» زما مرحوم قبله ګاه «حاجي عبدالحمید اخندزاده غمجن» ته ، وټلفون ته تر جواب ویلو وروسته وویل: حاجي ګل اغا !

استاد رشاد صاحب په سخت حالت کې دی او وزیر اکبرخان روغتون تې انتقال کړئ، که مو خوښه وي، پوښتنې ته بې ورسو. بیله متوکل صاحبه نور ... تر چایو چیښلو وروسته په تیزفتار موټرکې را سپاره سوو ، زما کشر ورور حاجي عبدالخالق «احدي» موټر د روغتون پر خوا رارهي کړ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

روغتـون تـه پـه رسـيدو لـوړ منزل تـه پـه ور پورتـه کېـدو سـره د اسـتاد مشـر زوی محترم ډاکټـر طـارق رشـاد، د هغـه زوم مرحـوم ډګـروال صـاحب، داسـتاد رشـاد لمسـی ښـاغلی حامـد متواضـع او د اسـتاد درنـه او پتمنـه لـور کوکـو رشـاد حاضـر وه، د اسـتاد دصـحی علائمـو د کنټـرول او چـک کولـو لپـاره دروغتـون د روغتيـا پالانو تر څنګ ډاکټر صاحب طارق «رشاد» هم ور سره بوخت وو.

د ورتـګ پـر مهـال او تـر يـوه پـاو يـا دشـلو دقيقـو پـوري اسـتاد ددي وو چي څـوک وپېژنـي، زمـوږ لـه پـلار، بيـا لـه خـدام او وروسـته ... سـره يـې د کمـزورو خبـرو او ضـعيف احسـاس لنـډه مفـاهمې وروسـته اسـتاد ددې سـو، چي ليـدونکي تکليـف ورنکـړي، ګـرې ور سـره وو، دا مهـال چـي د اسـتاد د شـکري د معاينـات نتيجـه را وړه سـوه،او بيـا چي ډاکټـر صـاحب رشـاد يې فشـار وکـوت، څـه انديښـنه يې څرګنـده کـړه، چي پـه طبابـت کي د فشـار دلـوړوالي سـره د شـکري کښـتوالی مناسـب ..... بيـا وروسـته څـه فريشـانه غونـدي وو، خـو لا اختـه وو، مـوږ پـه اطـاق کي د ازدحـام د مخنيـوي پـه خـاطر ځني رخصـت سـوو، د روغتـون څخـه د راوتلـو وروسـته پـه لار کي خـدام صاحب ته زنګ راغئ.

پر استاد دي اللهﷻ ورحميږي.

ددې سـره د ژونـد دمبني څخـه ددې سـتر انسـان جسـماً تـګ وکـړ، خـو تـر شـا يې د معنـوي نـړۍ جزيـرې پرېښـووې .

«خدايـــــــه څـــــــه ســـــــول هغـــــــه ښـــــــکلي ښـــــــکلي خلـــــــک
په ظاهر په باطن سپين سپېڅلي خلک»

درنښت

Get more e-books from www.ketabton.com
Ketabton.com: The Digital Library